جنید شریف

د عطایی ملا شعر «د وخت ضرب»
تصوفي مانا او شعري ښکلا

لومړی باید په دې اعتراف وکړم چی زما دا نقد تش زما شخصي نظر دی او نور مسلکي استادان خو پریږده چی د شاعرسریزه می هم نه ده لوستې خو دا ژمنه کوم چی د تعبیر او قضاوت په برخه کی به محافظه کاري ونه کړم.

«دوخت ضرب» د عطایی صاحب د هغې شعري ټولګی د عنوان شعر دی چی په ۲۰۱۸ کی په کوټه کی چاپ شوی دی. په پیل کی به لومړی بند دلته را نقل کړو:

د وخت ضرب دی، د ژوند تال دی
سوز د حال دی، شور د قال دی
د جنون ورکه قصه ده
د ګونګې مینې غصه ده
د زاهد سره جګړه، د ساقي سره خبره
د ښایسته وو سره روغه، یو خوږه د ناز ګیله ده
دا د حُسن د خان ننګ دی، د جابرو تورو جنګ دی
ځي په پورته مخ په بره، د «لا، لا» د فوج حمله ده
دا د ځان (!) د بت و پښوته د اور پړی دی اره ده
دا مغرورسره نمرود ته، د خلیل د مټ تیشه ده
(عبدالهادي عطایی د وخت ضرب، دوهم چاپ ۲۰۱۸)

شعر په موزیک شروع کیږي (ضرب، تال) او سمدلاسه شعر او داستان ته رسیږي (قال، قصه). خو هسی نه چی مونږ د خوشالی په ګومان و غولیږو، دستي راته اخطار راکړل کیږي چی دا کلام «د ګونګې مینې» قصه ده.
دا لومړی بند څرګندوي چی د شعر یومهم محور پخپله شعر او د هغه نږدې ماحول یا موسیقی، ژبه او هنر دی. بشنو از نی چون حکایت می کند.
بل خوا د حسن او مینې او د وفا او عصیان نکل په کی خلاصه شوی. که د زاهد سره جګړه وي یا د ساقي سره اختلاط، خبره د عصیان ده، هغه عصیان چی ابراهیم (ع) د نمرود په ضد را واخیست. خو ښایی چی تر ټولو ستر عصیان د خپل ځان په ضد وی: د «لا لا» د فوج حمله ده. مطلب د لا لا نه طبعاً دلته د عربي «لا» یا «نه» ده ځکه صوفي د خپلې معنوي ودې د پاره باید نفساني لذاتو ته او په تیره شهرت او نامه ته شا وکړي.

که د ژبې رغونې ته ځیر شو زما په اند د «د وخت ضرب» خپله مانا په همدی عنوان کی اخښلی ده.
عنوان چی تلفظ کړئ د لومړي توري (وخت) غږ ورو او تدریجی دی او د دوهم توري (ضرب) غږ ناڅاپی او دریدونکی. «وخت» د «خ» له کبله داسې غږ لري لکه چی ویده شوی وي. خ، ش، س، ز او ځینې نور کانسوننتان لکه د واولونو غوندې دوامداره غږ لري. شیرین عمر چی تیریږي دریغه دریغه.
هم واول (ې) او هم کانسوننت (غ) نه دریدونکی یا دوامدار غ دی او ځکه نو د زمان او تیریدو مانا پیاوړې کوي.
په مانا کی هم «وخت» حرکت ښیی او ضرب دریدل. وخت د تحول او ریفورم بڅی ده (evolution) او ضرب د ړنګولواو انقلاب توفان دی (revolution).
دې لاندې لست کی د وخت اړخ ښي خواته او د ضرب اړخ کینې خواته لیږدول شوی:
تال - ضرب
حال – قال (د حال ژبه او د قال ژبه)
خبره – جګړه
د ښایسته وو سره روغه - د جابرو تورو جنګ
«تورو» کیدی شي په مجهوله واو (tor) وي یا په معروفه واو (toor). زما نظر دادی چی دلته توره هماغه د جګړو توره ده خو د همدې شیبې نه د شعر وروستیو برخو ته اشاره هم کوي او هلته د تورو (حروفو) مانا برسیره شوې ده. د شعر څو نورې مصرې هم ولولوئ:

وخت؟
وخت روان باچا د رنګ دی، وخت د هوش هیره لحظه ده
وخت حسرت د تیر پرون دی، وخت سبا ته تلوسه ده
ضرب؟
ضرب تنا ده ضرب ښکلا ده، ضرب رباب دی ضرب دوکړه ده

ګرامري رغونه باید دلته هیره نه کړو: مخکي په هره مصره کی د دواړو خواوو بیان شوی و او اوس هره خوا ځانته یوه اوږده مصره لري. دا یو ساده توپیر ښکاري خو داسې شاعران لکه عطایی نه غواړي چی ژبه ترې تکراري او مونوتون شي.
«روان باچا د رنګ» نو څه مانا؟ که رښتیا ووایم نه پوهیږم خو که یی په مانا پوه هم نه شم راته ډیر خوندوراو موزیکال ښکاري. یو احتمال به در سره شریک کړم: په تصوف کی رنګ هغه منفي احساس نه پاروي کوم چی په محاوره کي اوریدل کیږي: همه جا دکان رنګ است. د هند د مذاهبو او کلتور سره سم چی بیدل هم ترې ډیر اغیزمن شوی رنګ د کایناتو او عالمي نیستی او تیاره مقابله خوا ده. په ابتدا کی رنګ نشته، نوم نشته، تعیُن نشته، او عالم تشوالی یا عدم دی. وروسته بیا خدای یا خدایان دنیا ته راښکته کیږي او طبیعت د ښکلا او ژوند نه ډکوي. په دې فلسفه کی چی وحدت الوجود ورته یو مناسب نوم دی الهیت په طبیعت کی تجسم کوي او بیرنګه دنیا رنګینه کیږي.

باچا ظاهراً د قدرت او اقتدار سمبول دی خو په یو ضعیف احتمال کیدی شي د فارسي «شاه» یا زوم ته هم اشاره وي ځکه سیاسي باچا نو ولې «روان» وي؟ په ځینوفستوالونو کی هم باچا یا ملکه د ډلې په سر کی روان وي او که دا فیستوال په هند کی وي نو خامخا به رنګ ورباندې شیندل شوی وي.

«وخت د هوش هیره لحظه ده» یو ښایسته تخیل دی. هیره لحظه یعنی مرګ؟ لیونتوب؟ غفلت؟ په ډیرو اسطورو کی خلقت او شعور سره تړلي دي. په یهودانو کی آدم غواړي چی پوهه پیدا کي او په یونان کی

يو تايتان (شيطان؟) د پروميتيوس په نامه د خدايانو د مشر نه اور غلا کوي او انسان ته يې ورکوي او اور د شعوراوعقل سمبول دی. نو د وخت او شعور يا د وخت او نه شعور تر مينځ اسطوره ای اړيکه شته.

دقيقه مانا که هرڅه وي ياد شوې مصرۍ زمونږ د وخت او ضرب تضاد څرګندوي: هم رنګ او هم د هوش هيرول ساړه، پاسته، او غزيدونکي دي. بله مصره بيا نوره هم پسې پسته کيږي: وخت حسرت د تير پرون دی، وخت سبا ته تلوسه ده.

د پرون حسرت خو داسی يو مضمون دی چی تصوف ته اړتيا نه لري خو تصوفي مانا هم په کی پرته ده: روح د خپل اصل نه بيل شوی او غواړي بيرته ورسره يو شي:
هر کسی کو دور ماند از اصل خويش/باز جويد روزګار وصل خويش

د سبا تلوسه هم هماغه د معنوي وصل د پاره ده ځکه د عدم او فنا په عالم کی ماضی او مستقبل سره يو دی.

اوس نو ضرب را واخلو.
مهم انځور دلته د ساز انځور دی: ضرب تنا ده، ضرب ښکلا ده...«تنا» د تالندي په مانا د ضرب د پاره ډير ګويا انځور دی خو نورې ګټی هم لري ځکه سړي ته د ساز او ګډا آواز په يادوي. تاسو نه خبر نه يم خو ما چی دا لغت وليد حضرت باز را په ياد شو.

د حسرت او د رباب تضاد کومې شرحې ته اړ نه دی. حسرت، صبر، حقيقي مينه -- دا د وخت ځانګړتياوې دي. تنا، نڅا، غورځنګ، دوکړه يا ډول د همدا اوس او آني تجربې يا د صوفيانو په خبره د مجازي مينې او مجازي حسن انځورونه دي.

بل بند بيا په هره مصره کی دواړه خواوې څرګندوی:
وخت ښايست زما د شهی دی، ضرب يی خال، بانه ضربه ده
وخت دروند غر د کوه طور دی، ضرب جلوه د اور لمبه ده
وخت باچا دی ضرب حمله ده، وخت دريا دی ضرب څپه ده
وخت دولت دی، ضرب سکه ده، وخت شاعر دی ضرب مصره ده

دا د انځورونو او استعارو بدايه خزانه که د مانا له پلوه کمزورې هم وای ما دپاره به پوره خوند راکړی وو خوپه دی انځورونو کی ژوره فلسفي مانا هم پرته ده او هغه داچی ښايست د ډيرو شاعرانواو ادب پوهانو په اند د مجردو او ګڼلي مفاهيمو نه پيل کيږي او په مشخصو يا ځانګړو انځورونويا بڅرکو او ګلپانو کی بشپړ کيږي. ځيني بيا وايی چی هنر د يو مشخص انځوريا ټکي نه پيل کيږي خو دا مشخص دومره مناسب او په ځای غوره شوی وي چی بی له کوم کړاو اوهڅې يوه ګڼلي يا ټوليزه (يونيورسال) مانا پيدا کوي. په دواړو حالتونو کی وينو چی د کل او جز تر مينځ يو دوه اړخيزتوب يا ديالکتيک را مينځ ته کيږي. په دی ماحول کی هغه تصويرونه يا عاطفی تجربی چی تند او تيزاو څپه ايز وي او د ورځني او مشخصې يا لنډ مهالي حوزې نه وتلای نه شي ښکلا يی بشپړه او اوسيدونکې نه ده. په بله وينا هغه ښکلا چی معنويت يا ذهني روښنايی نه لري او د خط او خال او يا سپيني خولې نه پورې نه اوړي ژوره اواوسيدونکې ښکلا نه لري يا لږ تر لږه ښکلا يی شاعرانه نه ده.

زه دا نه وایم چی د عطایی شعر د همدې نظریی تعریف دی خو ما ته دا ادعا معقوله ښکاري چی ده له دغسی دوه اړخیزتوب او دیالکتیک نه کار اخیستی او د ښکلا ماهیت یی مونږ ته ژوراومتضاد ښودلی.نو دی چی وایی:
وخت ښایست زما د شهی دی ضرب یی خال بانه ضربه ده.
خال او بانه مشخص دي او د ښایست ښکارندویان ګڼل کیږي خو ښایست د خال د جلوې یا د ښود ویشتلو نه وړاندې ځي.

غر او د اور لمبه ددی تضاد تر ټولو ښه بیلګه ده چی هم د اسطوره ای زمانی یادونه کوی (وخت) او هم د ثبات او دوام سره د ناڅاپی حوادثو مقابله (ضرب) په پیاوړی توګه مونږ ته څرګندوی. «دروند غر» که د خوځیدو اراده هم وکړي دا خوځیدل یی له توانه وتلی وي یا په بل عبارت د غره کرکتر او تمکین د خوځیدو د پاره جوړ شوی نه دی خو هغه د اور لمبه چی خدای (ج) موسی ته د خپل «ښایست» د یوې څنډې په توګه وښودله د عطایی صاحب د ضرب تر ټولو پیاوړی مثال دی.
په دې مقابله کی چی د مجرد او بشپړ فورم او د مشخص یا نیمګړي جسم تر مینځ را ژوندئ شوې ده ما ته د سمندر یا د سین او څپو تضاد هم ډیر خوندور ښکاره شو:
وخت دریا دی (بقا) او ضرب څپه ده (فنا).
آب و گوهر در کنار بیخودی آسوده اند
موج ما را اضطراب دل شناور می کند (بیدل)
موج د ضرب ډولی ده چی روانه ده د زړه ارمان پوره کول غواړی او مرغلره د وخت په غیږ کی ابدی وصال ته رسیدله ده.
زمونږ د ورځني ماحول کانو بوټو ته دا د مجردو او مثالي فورمونو یا مادلونو «را ښکته کیدل» افلاطونی منشاء لري. په تیره ثاني افلاطون (پلوتاینس) چی په اسکندریه کی اوسیده زمونږ په صوفیانو باندی ډیره مستقیمه اغیزه درلوده.

د عطایی ملا بله تشبیه دا دیالکتیک لا روښانه کوي:
وخت دولت دی ضرب سکه ده.
اول خودولت په دواړو ماناګانو کارول شوی دی: پاچایی او ثروت. د ضرب او سکه ذوالمعنین هم باید له یاده ونه باسو: د سکي تولید ضرب وهل دی. خو د ښایست دیالکتیک دلته داسی دی چی شاعران په سل هاوو شعرونه لولي یا اوري او ددې بیلګو څخه ورته په ذهن کی یو ګڼلي مثال یا قالب جوړیږي. نو کله چی یو شاعر پخپله شعر لیکي هماغه قالب یو ځل بیا ډکوي. خو دا هم هیره نکړو چی د تخلیق پروسه د ضرب وهلو او قالب ډکولوسره توپیر لري ځکه په ښکلاپیژندنه کی بیا د قالبونو د بدلولوامکان هم شته.

ښکاره ده چی دقالب ډکول هم هنري چاره ده او د هر چا له لاسه پوره نه ده ځکه شاعر نه شی کولای چی قالب د هماغه ختې نه ډک کړي چی نورو ډک کړی. خو په لوړو او نخبه آثارو کی شاعر یو بل قدم هم اږدي او هغه د قالب بدلول دي یا د مادلونو نوي کول.

«د وخت ضرب» یو فلسفی او وحدت الوجودی چاپیریال لري. او دا ددی د پاره نه ده چی ددی نظریی تبلیغ وشی بلکه ددی د پاره چی شعر ته ژبنی پس منظر ور کړی. د یو مثال په توګه همداسی ژبنی پس منظر د حافظ په غزلو کی هم شته. حافظ په ډیری شعرو کی د صوفیانو په ژبه غږیږی خو خپله صوفی نه دی. د عطایی شعر هم که یوازې عرفان ته محدود کړو نو بی انصافي به مو کړې وي. ښه شاعران

نه غواړي چی یو بُعدي پاتې شي. د عطایی په شعرکی د مجازي یا ځمکنۍ مینې ونډه زیاته ده او حرکت او کډوالي یی هم یوازې روحاني حرکت نه دی. عطایی د عرفان نه متاثر دی او د عرفان معنویت ته په اخلاص درناوی لری. خو ما ته داسې ښکاري چی دده عرفاني قهرمان عطار یا سنایی یا ګیلاني نه دی. که داسې څوک وي چی مونږ یی دده قهرمان وګڼو نو هغه به شمس تبریزي یا د پښتني کلتور ملنګ وي. مګر ددې ادعا مثالونه ما زیاتره دده په نورو شعرونو کی لیدلي دي چی دلته وربانديې د بحث پروګرام نه لرم.

دلته باید زیاته کړو چی تضاد د شعر یو طبیعی چاپیریال دی خویوازې تضاد د شعر د ښکلا د پاره بسنه نه کوی. انسانی لاملونه لکه عاطفی عناصر او اروا پوهنه هم لویه ونډه لری. «د وخت ضرب» په دی برخه کی په سیاسی اشاراتو او اسطوره ای تضمین بسنه کوی.

وخت باچا دی ضرب حمله ده
وخت حسرت د تیر پرون دی، ضرب سبا ته تلوسه ده
وخت دروند غر د کوه طور دی ضرب جلوه د اور لمبه ده

ما ته داسی ښکاری چی «د وخت ضرب» په پای کی پخپله د خپل ځان پیژندنه وړانديې کويĚ
دا د تورو ساحري ده، و جانان ته نذرانه ده
ښاریه وهی د عقل، د «ملا» د خیال دُره ده
د ګونګۍ مینی غصه ده
د جنون ورکه قصه ده

«تورو» ابهام لري: په مجهوله واو د حرف په مانا او په معروفه واو د ذوالفقار په مانا. اصلی مانا دلته هماغه د حروفو مانا ده ځکه د ساحرئ او شعر ویلو سره اړین دی ځکه جادوګران د پټو تورو او عباراتو په ویلو کارونه سرته رسوي. خو مینان د سرشیندلو له لاری هم نذرانه ورکولی شی. شاعر د ددو مصرو ترتیب چی د د شعر د لومړی بند نه اخیستل شوي دی بدل کړی دی. دا ماته یو ښه تبدیل ښکاري ځکه اوس د شعر په پای کی د غصې په ځای د ورکو قصو انګازې را سره پاتې کیږي.

عطایی په خپلو نورو شعرونو په تیره په اوږدو نظمونو کي د تصوف او ښکلا پیژندنې مضمونونه په تفصیل څرګندوي خو هغه به بیا نورو لیکنو ته پریږدو.خو څو مصرې به دلته د یو بل شعر (معجزې) نه را نقل کو چی په کی د مینې او د مزلونو او د ځان د اسارت نه د تیښتې ډیر پیاوړي انځورونه وړاندې شوي دي. په تیره پام وکړئ د «فتنه لنګه» عبارت ته ځکه فتنه په ادبي تاریخ کی یو مشهور سمبول دی او محراب سره د هغې ګاونډیتوب یو څرګند طنز جوړوي.

د بی نیازه جانان نرخ دی
د وصال بیه ده گرانه
په امید د یو دیدن یی
ډکی سوي هدیرې دی
- -    -
د خودئ په می مدهوشه
امامان آینه فروشه
په دی ښار کی فتنه لنگه
محرابونه بتکدې دی
- -    -
په څه رنګ به ځان در خپل کړم
کوم قدم به دی زه ښکل کړم
ستا جلوه د برېښنا منډه
زما په پښو کی زولنې دی

(د وخت ضرب ۱۲۴-۱۲۵)